# <u>مطبوعاتي اعلاميه</u>

## مسلمانان؛ د غرب د استعماري غرور او حرص قربانيان!

پروفيسور حسن نندوا، چې يو مشهور او دروند مسلمان عالم او وکيل دی، په اختطاف کې له ۱۲ ورځو تېرولو وروسته، د ۲۰۲۱م کال د نومبر په ۹مه، د ماسپښين په ۱ بجه د ميونګي ښارګوټی ته څېرمه په يو ځنګل کې غورځول شوی و. د پخوانيو وحشتناکو پېښو په څېر، هغه ته امر شوی و چې خپل وحشتناک وضعيت افشا نه کړي، ترڅو له دې څخه ډېر له وحشي پېښو سره مخ نه شي! د بشري حقونو د ځينو سرچينو په وينا، د روان کال په ترڅ کې له ۱۳۳ څخه ډېر کسان مړه يا ورک شوي وو. د 2007 راهيسې، اټکل کيږي چې تر 1000 ډېر کسان د دولت په مرسته يا له مرستې پرته وژل شوي يا يې د ساتنې ځای او برخليک نامعلوم دی.

حزب التحرير -کينيا د دولت د امنيتي دستګاه لخوا د کمزوري او بې دفاع خلکو پر وړاندې دا ډول وحشتناک عملونه په کلکه غندي، په داسې حال کې چې دولت په لومړي سر کې د خپلو اتباعو د حقونو او امنيت پر ساتنه مکلف دی. په حقيقت کې د امنيتي ادارو له خوا د بشري حقونو دغه سرغړونې د دولت د معافيت او د ځمکې له اصلي قانون څخه د سرغړونې څرګندې نښې دي. مرتکبين ډاډه دي چې د دوی پر وړاندې به هېڅ اقدام ونه شي، ځکه دوی ته د بشپړ خونديتوب ډاډ ورکړل شوی دی. خو موږ ډاډه يو چې الله سبحانه وتعالی د دوی له کړنو څخه غافل نه دی.

دغه ظلم او وحشت چې نن موږ ورسره لاس او ګريوان يو، يوازې هغه جنايات دي چې «د ترهګرو پر وړاندې جګړې» تر عنوان لاندې د مسلمانانو پر وړاندې په ټوله نړۍ کې ترسره کېږي. دا جګړه، چې د غرب له لوري ترې د تروا آس جوړ شوی دی، په دريمه نړۍ کې د ټولو عملياتو د کنټرول په هدف د نوي استعمار د ټينګښت په منظور رامنځته شوې ده. ربښتيا هم چې اسلامي امت د استعمار د غرور او حرص قرباني شوی دی. جګړه خپله د ليبرال پانګوالې غربي ايډيالوژۍ د فکري او سياسي ماتې په مانا ده.

دغه ذلت هېڅکله پای نه مومي، تر څو مسلمانان خپله ژمنه تازه نه کړي او د رسول الله صلی الله عليه وسلم پر منهج د راشده خلافت له لارې اسلامي ژوند پيل کړي. دغه تګلاره له فکري او سياسي مبارزې پرته بل څه نه ده.

**شباني مواليمو**

**د حزب التحرير- کينيا مطبوعاتي استازی**

**۱۴۴۲هـ.ق کال، د ربیع الثاني ۴مه**

**۲۰۲۱م کال، د نومبر ۹مه**

**د صدور ګڼه: ۰۴/ ۱۴۴۳**